شهسوارسنګروال ۲۰۱۵/۰۷/۲۷

د درې ګونديزې ټلوالې راتلونکی ګواښ

هغه مهال چې د افغانستان پاچا امان الله خان د ترکيې هېواد ته سفر وکړ نو د هېواد د ودې او پرمختګ لپاره چې يې کومه تګلاره درلوده د ترکې له ولسمشر سره شريکه کړه او د ګډو ټولنيزو اړيکو وړانديز يې وکړ.
د ترکيې د ټولواک لومړی ټينګار په دې وه چې د هرې تګلارې د عملي کولو لپاره يوه ملي ځواکمن او واکمن پوځ ته اړتيا ده.
که د تاريخ د تېرو پاڼو په پرتله وګورو اوس هم افغانستان يوه پياوړې پوځ ته اړتيا لري. د څومره والي له مخې د هيواد پوځ د پام وړ پرمختګ کړی دی خو د څرنګوالي له مخې لا يو څه انديښنې پخپل ځای دي.
موږ د هېواد د ټولو وسلوالو ځواکونو له قربانيو او اتلوليو څخه سترګې نشو پټولی، خو د ملي يووالي د ټينګښت او پايښت لپاره لا ډېرو هلو ځلو ته اړتيا ده. زموږ وېره دا ده، نه چې د قومونو مشران د توکميزو ناندريو او د خپلو زړو عدتونو له مخې د خپلو ځاني ګټو لپاره ملي پوځ په ډلو او ټپلو ووېشي؟
عطا محمد نور، جنرال دوستم او محقق کاشکي د ملي فکر او اند په رڼا کې، نه يوازې د هيواد په شمال بلکې په ټول افغانستان کې د ملي پوځ په ملاتړ د دولت د مخالفينو پر وړاندې له خپلو امکاناتو نه ګټه واخلي.
که چېرې د دوی خواخوږي د يوه غولونکي سياست پر بنسټ ولاړه وي، که غواړي چې د افغانستان مرکزي دولت وګواښي او يا په ولسمشر خپلې غوښتنې ومني ښايي د دې انګېرنو او هڅو پايله به نه يوازې ټول افغانستان ته بوګنونکې وي بلکې له هر چا زيات به د پېښو قرباني پخپله دوئ شي.
د مجاهدينو د واک، تېر پېر بايد له پامه ونه غورځولی شي او که چېرې خدای مکړه هغه شېبې بيا راغبرګې شي، بيا به دغه بل شوی اور د دوئ تر لمنو هم ورسېږي.

اوس چې د افغانستان دولت له کومو کورنيو او بهرنيو ننګونو او ګواښونو سره مخ دی لاملونه يې دا دي:
۱ - له ديارلس کالو نه ډېره موده کېږي چې معلم عطا محمد نور د بلخ والي دی. د افغانستان په تاريخ کې هيڅ والي په دومره زور،شدت او غبرګونونو سره د دومره اوږدې مودې لپاره ولايت ندی کړی، د همدې ولايت له برکته ده چې اوس زرګونه سپکې او درنې وسلې او په ميلونونو ډالره او پيسې لري . دی د دغه واک او ځواک د ساتلو او ژغورلو لپاره له هرې فتنې او وسلې نه ګټه اخلي، چې موږ په پروان کې د قومندان جان احمد خان ډيوې د بېلګې په توګه يادولی شو.
د حامد کرزي له کرکې ډک ميرات نه راپاتې يوه ډېره بده او ناوړې ستونزه همدا ده چې عطا محمد نور يې د راتلونکو حکومتونو لپاره د يوه ګواښ په توګه وساته.

۲ – جنرال دوستم چې د ببرک کارمل له حکمرانۍ نه را په ديخوا يو سياسي لوبغاړی دی او تر دغه دمه ډېر ښه ځلېدلی او لوبېدلی دی، غواړي چې يو ځل بيا خپلو پلويانو ته تېره سياسي او پوځي دب دبه ور په زړه کړي. که څه هم دی پدې پوهېږی، چې عطا محمد نور غواړي ده ته (ګول) ورکړي. دوئ دواړه يو بل ته غله دي، دواړه کوښښ کوي چې يو بل د خپلو ځانی ګټو لپاره وکاروي. عطامحمدنور ته خپل ځان له ده نه ډېراوښيار ښکاري، ولې څومره چې وروستيو پېښو ښودلې ده جنرال دوستم هم بېوسه او بېکسه ندی. د نجيب الله د مهال د بهرنيو چارو وزير عبدالوکيل د خولې کيسه ده:

وايي ما ته ډاکټر نجيب الله سهار وختي د ټيلفون په کرښه ووېل چې (۱۱) بجې زما دفتر ته راشه، زه په ټاکلي وخت ورغلم، د هغه د دفتر رئيس (توخي) راته ووېل: جنرال دوستم ورسره ناست دی ...ورته ومې وېل: زه بېرته دفتر ته ځم کله چې نوموړی ترې ووت، ما ته ټيلفون وکړه، دوه بجې ټيک توخي راته ووېل: دوستم دا دستي ووت، زه چې ډاکټر نجيب الله ته ورغلم، ډېر په غوسه وه راته وې وېل! دا څلور ساعته کېږي چې زه له ده ..... سره خبرې کوم، په هو او نا يې پوه نشوم. په پای کې راته دومره ووېل: په زړه کې ښه اوښيار يم، خو په خوله يې نشمويلی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۳ - دغه درې واړه ډلې (جمعیت،جنبش او وحدت) د خپلې مخینې له مخې په خپل مینځي اخ و ډب کې ښکېل وې پدې لړ کې د وحدت مشر محقق هم د دغه ائتلاف یو غړی دی. د ده تنظیم لکه د ده په څېر په توکمیزو او مذهبي ناندریو کې دومره ډوب دی چې پرته له خپلو تنظیمي ګټو، ملی ګټو ته هیڅ ژمنتیا نه لري.
دغه درې واړه ډلې د وسلو زېرمې او ډیپوګانې لري. د دی لپاره چې خپلې زېرمې لا خوندي او لا رسمي کړي او د بهرنیو پوځونو له برید نه یې وژغوري نو ځکه پدې نوم چې موږ غواړو شمال له ترورستانو نه وژغورو. دغه ټلواله مو جوړه کړېده!؟
د ډاکټر نجیب الله د واک په مهال هم پدې نوم جنرال مومن ډېرې وسلې او پیسې تر لاسه کړې، چې په پای کې د نجیب د حکومت د پرزولو لپاره متې رابډوهلې.
ښایي دغه درې ګوندیزه ټلواله د یوه ځانګړې تشکیل لپاره هم ځنې امتیازونه له دولت نه تر لاسه کړي او یا لږ تر لږه تېر (پرتم) ورغوي او د خلکو په مینځ کې چې کوم باور له لاسه ورکړیده بېرته ژوندی کړي. که داسې شي، ناشونې نده چې د ډاکټرنجیب الله د وخت پېښې په یو څه توپیر په یوه بله بڼه راغبرګې شي. لکه څرنګه چې نجیب الله مسیر د شمالي ولایتونو د اجرائیه کمیټی د رئیس په توګه چې ۱۶ تنه یې د حکومت نور چارواکي ووټاکل شو.
د (شمالي حکومت) په نوم تشکیلات به چې دغه درې ګوندیزه ائتلاف یې د جوړیدو په تکل کې دی، نه یوازې افغانستان ته یو سیاسي ګواښ وي، بلکې په اقتصادي چارو کې به هم ګڼې ستونزې رامینځته کړي.
۴ – د ولسمشر د تګلارې پر وړاندې یوه بله ستره ستونزه د ملي یوالی حکومت په مینځ کې نا یو والی دی چې دومره د اشخاصو د ټاکلو په سر پخپلو کې بوخت دي چې نه د اداري فساد پر وړاندې مبارزې ته اوزګار دي او نه د ځمکې مافیا، اختلاس، قاچاق، بې عدالتي او ډول ډول نور ټولنیزو ناخوالو ته , چې د هېواد نا امنی او بې ثباتي ته یې لوی ګواښ پېښ کړی دی.
۵ - د هېواد د سیاسی ثبات د کمزورتیا یو بل لامل د پخواني ولسمشر حامد کرزي شا و خوا د یو شمېر سلاکارانو شتون دی چې د اوسني ولسمشر سیاسي دریځ ګواښي. حامد کرزی باید په دې پوه شي، که چېرې غواړي (ملي زعیم) شي لکه څرنګه چې ولسمشر اشرف غني د کمکي اختر په لومړۍ ورځ ورته همدغه مقام ورغبرګ کړ. ښه به وی چې د هېواد ریښتنی خواخوږی شي.
که چېرې دی هم د عطا، دوستم او محقق په څېر د سیاسي ائتلاف په نوم یوې ټلوالې ته لاس واچوي چې موخې یې سیاسي نه وي، بلکې په خپلو ګټو ولاړې وي، نه یوازې به د (ملي زعیم) وړتیا له لاسه ورکړي بلکې د تاریخ په پاڼو کې به په ښه نوم یاد نشي.
۶ - د افغانستان د سیاسي واکمنتیا لپاره یو ستر ګواښ د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو شوم نیتي ده چې په ډېرې بېباکۍ د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.
ایران غواړي د مذهبي او کلتوري یرغل پر بنسټ افغانستان دومره بېواکه او کاواکه کړي چې د دوی د لاسوهنې مخه ډب نشي کړی.
د ایران چارواکي دا اوس دستي له محقق سره په اړیکه کې دي چې د افغانستان مرکزي حکومت دومره کمزوری کړي چې د دوی لاسوهنې ته لاس رسې پیدا نکړي.
پاکستان زموږ یو بل ګاونډی دی چې د څو پرلپسې لسیزو نه را پدیخوا د افغانستان د هر اړخیزې کمزورۍ لپاره هلې ځلې کوي.
د (ای . ایس . ای) پر مټ د افغانستان د حکومت مخالفین روزي ،وسلې او پیسې ورکوي او بیا یې افغانستان ته رالېږي. پاکستان د څو لسیزو په موده کې افغانستان ته دومره درانه مادي او معنوي زیانونه اړولي دي چې په سیمه کې خو ساری نه لري ولې په نړېواله کچه هم د دا ډول لاسوهنې ساری لږ لیدلی کېږي.

باید څه وشي؟

له یادو څرګندونو نه دغو پایلو ته رسېږو چې د افغانستان دولت باید پدغو وړاندیزونو غور وکړي:

۱ - د یوه پیاوړي، ځواکمن او واکمن پوځ رغول چې یوازې د افغانستان ملي ګټو ته ژمن وي.
۲ - د شخصي ملېشو کابو کول، د نا قانونه وسلو زېرمې باید له مینځه لاړې شي، د زور واکو زور باید اوبه شي، د سیمه ییزو واکمنو او قومندانانو واک باید له مینځه لاړ شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۳ – دولت باید ولس ځان پسې راکاږي او د ولس باور خپل کړي او هم یې د وسله والو له ګواښ او یرغمل نه وژغوری.
۴ – سیاسی ګوندونو ته باید سیاسي اساتیاوی برابرې شي او د دوی د سیاسي باور لپاره په داسې وړاندیزونو کار وشی چې وسله وال تنظیمونه خپل ارزښت له لاسه ورکړي او ریښتني سیاست ته مخه کړي.
۵ – د ملي یو والي حکومت چارواکي باید یو پر بل باور وکړي او هغه چا ته د دولت او حکومت چارې وسپاري چې رېښتني خدمت ته ژمن وي او هم مسلکي پوهه او وړتیا ولري، د کار مخینه یې ډاډمنه وي.
۶ – ټول سیاسي ګوندونه، مدني ټولنې، دولت او د دولت اپوزیسون باید پدې پوه کړی شي چې د دغه نظام چپه کول د هیچا په ګټه ندي ټول ولسواک او دموکرات ځواکونه باید یو موټی نه یوازې دغه نظام له هر ډول برید نه وژغوري بلکې په وړتیا او پیاوړتیا کې هاندې هڅې وکړي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ